# کتاب کتاب وي د کتاب سره ياري پکار ده

## د کتاب نوم

# "سفير انسانيت خان عبدالغفار خان"

ليکونکے ډاکټر حيدرلاشاري     تبصره رحمت شاه سائل

هسې خو په باچا خان ډېر څۀ ليکلي شوي دي، ځکه چې هغۀ د دې خاورې په تاريخ کښې دومره د اوږدې ساه، صبر او استقامت نه ډک رښتينے جدوجهد کړے دے چې کۀ دا ووايو چې هغه يو تاريخ جوړونکے شخصيت دے نو مبالغه به نۀ وي، بلکې داسې وئيل به زيات مناسب او درست وي چې باچا خان د غلامۍ په زمانه کښې او د يو عرضي فرضي تاريخ جوړولو او ليکلو پاره د غلامۍ ټول روايات او نفسيات په بله واړول، هغۀ د ژوند او اجتماعيت د رښتينې جذبې سره خلق په وړومبي ځل داسې اشنا کړل چې د عقل، دانش، ذهن او شعور په ذائقه ئې بله ذائقه نۀ خېژي او د هغۀ د فکر او جدوجهد دغه سلسله لا روانه ده او شايد چې تر هغې به روانه وي، ترڅو چې په دې خاوره د هغۀ د فکر د رڼا مطابق هغه نظام ته د دې ځائے د انسانيت ټولې پرګنې نۀ وي رسېدلې، هغۀ به په ساده پښتو کښې يوه وړه خبره کوله، داسې وړه لکه خلق چې وائي "روپۍ وړه ده خو په تول پوره ده". يا داسې وائي چې "فلاني په کوزه کښې سمندر بند کړے دے" هغه خبره دا ده چې وائي "پوره وي کۀ سپوره وي په شريکه به وي"

د خپل دې فلسفيانه قول دپاره کۀ مونږ د دې په رښتياوو د يقين کولو هڅه کوو نو بايد چې د باچا خان کار او عمل د ابتداء نه د اخري سلګۍ پورې هم د هغه په افکارو کښې هم د هغۀ په جدوجهد کښې هم د هغۀ په صبر زغم او استقامت کښې ولټوو، د پښتنو د شپږو زرو کالو په تاريخ کښې کۀ هر څو داسې په سوونو، زرګونو شخصيتونه تېر شوي دي چې پښتنانۀ پرې وياړ کولے شي خو د باچا خان مثال پېدا کول به په مثال زور کول وي.

پـه خپلـه وسـوځي ايـره شـي  
څوک چې تشبيه ستا د جمال راکوي

د پښتنو خوش قسمتي دا ده چې تقريباً د يوې پېړۍ دغسې لېوني جدوجهد نه پس او په باچا خان پسې چې په دې ملک کښې څومره پروپېګنډې شوې دي دا کۀ راټولې شي نو دومره به د دنيا په ټولو شخصيتونو پسې نۀ وي شوې. ولې هغه لکه د غر د دغو پروپېګنډو مخې ته ودرېدو او خپله خبره او فلسفه ئې هغه ځائے ته راورسوله چې نن يوا ځې پښتنو ته نۀ بلکې ټولې دنيا ته د دغې فلسفې د خپلولو ضرورت دے او د پښتنو بدقسمتي دا ده

چې تر اوسه ئې د يو دومره لوئے مجاهد پښتون سره د پېژندګلو حقيقي وصال نۀ دے شوے.

هسې خو په دې شخصيت ډېر کتابونه ليکلے شوي دي او اکثر پرې بهرنو خلقو ليکلي دي خو کوم کتاب چې پرې ډاکټر حېدر لاشاري صاحب ليکلے دے هغه هم د لوستو سره تعلق لري، يو دا چې دا د دې ملک سړے دے چې په باچا خان ئې دومره تحقيق کړے دے.

دوېم د هغۀ ژبه په خپله سندهي ده، ظاهره ده چې څوک د پښتو ژبې سره واقفيت نۀ لري هغه د پښتنو د تحقيقي مواد نه هغسې استفاده نۀ شي کولے بيا هم هغۀ دومره کوشش کړے دے چې نۀ يواځې ئې د چارسدې، پېښور، مردان، صوابۍ او نورو ډېرو علاقو دوره کړې ده او معلومات ئې راټول کړي دي. بلکې د پښتو ژبې د معلوماتي ذخيرې نه ئې د استفادې دپاره د هغه چا نه هم مدد اخستے دے څوک چې په پښتو پوهېدل، دا تکليف هغۀ په کلونو کلونو ګاللے دے.

د ډاکټر حېدر لاشاري په حقله کامرېډ جام ساقي وائي چې هغه د سندهـ د عشقيه داستان سسي پنون د ښار بهنبهور او سېدونکے دے، دے په يو وخت بائيوګرافر، ټکنو کرېټ، صحافي، کالم نويس، شاعر او يو قومي کارکن دے. په نظرياتي ډول د سائين جي ايم سېد منونکے دے او د مهاتما ګاندي جي او باچا خان سره بې حده عقيدت لري. دغه کتاب چې نوم ئې دے "سفير انسانيت- خان عبدالغفار خان" په اردو کښې ليکلے شوے دے، د دې دپاره چې عام لوستونکي ترې استفادې وکړې شي، په څلور سوه دوه دېرشو صفحو خور دغه کتاب چې په حقيقت کښې د باچاخان د ژوند او جدوجهد د تاريخي حوالو سره سم د هغۀ د ټول ژوند نچوړ دے. د پښتنو لوستونکيو دپاره په




خصوصيت سره او د نورې دنيا د محققينو دپاره يوه نادره تحفه ده، د دې کتاب لب و لهجه او په تاريخي حوالو د باچا خان او د هغۀ د نرانو ملګرو د ژوند او جدوجهد هغه داستانونه دي چې د انګرېز د غلامۍ او اقتدار د مکرو فرېب نه ئې ټولې پردې اړولې دي.

"مينې چې کوم طرف ته مخ
کړے انقلاب راولي"

هغه چې په کومه لار هم تلے دے، هلته ئې انقلاب راوستے دے، دغه وجه ده چې هغۀ ته انګرېز سرکار په قدم قدم زولنې، زنځيرونه او جېلونه خوارۀ کړي وو. دا د ۱۱ مارچ ۱۹۳۱ وخت ؤ. باچا خان په جېل کښې ؤ، ډاکټر حېدر لاشاري د سفير انسانيت په صفحه ۹۳ (د باچا خان ازادي) تر عنوان لاندې ليکي چې ګاندي جي د باچاخان د ازادۍ دپاره په انګرېز سرکار زور اچولے ؤ او هغه چې په ۱۱ مارچ ۱۹۳۱ د

ګجرات جېل نه رها شو نو په زرګونو مسلمانانو، سکهانو او هندوانو ئې استقبال وکړو، بیا باچا خان د لاهور د دوستانو سره د لیدو کتو پروګرام جوړ کړو او لاهور ته روان شو، په جهلم کښې ئې بې شمېره خلقو ډېر ګرم استقبال وکړو او بیا د هغې ځائے نه لاهور ته ورسېدو.

د لاهور په سټېشن مولانا ظفر علي خان، پنډت سنستانم او نورو ډېرو ملګرو ئې د هغهٔ استقبال وکړو. په دغه وخت کښې د کانګرس کارکنانو د مسز اصف علي په نۀ رهایۍ د لاهور سنټرل جېل نه بهر دهرنا ورکوله، باچا خان د خپلو ملګرو سره هلته ورغے او هغه خلق ئې د هغې ځائے نه راپاڅول.

ماښام خلقو د هغهٔ په اعزاز کښې جلسه جوړه کړې وه چې هغې کښې هغهٔ ته تحفې پېش کړې شوې. باچا خان دغلته په خپل یو مختصر تقریر کښې ووې چې مونږ ته لا د حالاتو نه بې غمه کېدۀ نۀ دي پکار. مونږ له کار کول پکار دي، ځکه چې دا صلح نۀ ده، بلکې یوه وقفه ده.زما به دا کوشش وي چې د آئنده وختونو د جنګ د پاره یو لک رضاکاران د عدم تشدد د فلسفې په بنیاد تیار کړم "کتاب- ۱۵ ص ۳۶۸د کتاب حواله"

تاسو به محسوس کړې وي چې د جنګ نه مراد د هغهٔ جدوجهد دے او چې کوم جنګ کوي هغه په بې وسلې سپاهیانو کوي!

د هغې نه پس د لاهور نه واپس شو په راولپنډۍ، اټک او نوښار کښې د شریکو لېونو جذبو سره په زرګونو خلقو د هغهٔ استقبالونه وکړه، په پېښور کښې خو ټول پېښور سرې جامې او سرې جنډې ؤ، بیا هغه چارسدې ته لاړو، هلته ورته په زرګونو خلق په انتظار ناست وو. د هغې ځائے نه اتمانزو ته لاړو، په دغو ټولو ځایونو کښې ئې د هغو شهیدانو په قبرونو حاضري ورکړه، کوم چې انګرېز سرکار په ګولو ویشتي وو، د شهیدانو په مزارونو باچاخان په خپلو مختصرو خبرو کښې ووې چې:

"د ازادۍ بوټے (ونه) د ځلمو په وینو لګیا دے سېرابېږي او ورو ورو لوئېږي کومه ونه چې مونږ نهل کړې وه هغه به ډېر زر لویه شي. ډډوره ونه به شي ځکه چې هغه زمونږ ځوانانو په خپلو تازه وینو سېراب کړې ده."

د ډاکټر حېدر لاشاري دا کتاب سفیر انسانیت هغهٔ په څلور کاله کښې د راغونډولو کوشش کړے دے، په دې سلسله کښې هغهٔ د کراچۍ او حېدراباد نه واخله تر اکوړې، مرغز، چارسدې، ټوپۍ، صوابۍ پورې ان چې د لاهور پورې تلے دے، د حېدراباد بُک سټالونه لائبرېرۍ ئې ورپسې کتلي دي د باچاخان ملګري خدائي خدمتګار ئې لټولي او اورېدلي دي او د سوچه صفا او رښتوني حقیقتونو په رڼا کښې ئې نۀ یوائې د باچا خان او د هغهٔ د ملګرو د ژوند او جدوجهد تاریخ را ټول کړے دے، بلکې د منافقینو تاریخ لیکونکو نه ئې هم پرده پورته کړې ده. د ډاکټر صېب د دغې کاوش او کتاب نه کۀ د کوم پښتون لائبرېري نیمګړې وي نو هغه به په حقیقت کښې نیمګړې لائبرېري وي باید چې خپله خپله لائبرېري هر څوک پوره کړي، ځکه په دې کښې د وفا ننګ او غېرت د لېونو د جدوجهد او قربانو تاریخ محفوظ شوے دے، دا د باچا خان د رښتوني جدوجهد او په رڼې لار د تلو برکت دے چې نن د ټولې دنیا دانشورې طبقې او سترګور خلق

د هغوي په افکارو پسې ګرځي او خلق د داسې لېونو سره اشنا کوي، کوم چې تر اوسه د خلقو نه پټ دي.

ډاکټر د دې کتاب تړون د يو تصوير په نوم داسې کړے دے.

انتساب

اس تصوير کے نام

په تصوير کښې مهاتما ګاندي، فخر افغان باچا خان او سائين جي ايم سيد ليدے شي، په دې کتاب کښې نور هم ډېر تاريخي تصويرونه ډاکټر صيب محفوظ کړي دي، دا کتاب په اګست ۲۰۰۸ کښې اول ايډيشن د جي ايم سيد سټډيز بورډ کراچۍ له خوا چاپ شوے او خور شوے دے، دا ئې اولنے ايډيشن دے، په ډېر قيمتي کاغذ ډېر ښکلے پرنټ شوے دے، په ټائټل ئې د باچا خان تصوير او په لاندې حصه ئې د سرو جامو د هغو رضاکارو تصوير دے، د کومو په حقله چې د پښتنو ښځو هم دا تخليقي ټپه وئيلې ده چې:

کۀ ولنټيئر توره ونۀ کړه

فخر افغان به د سرکار د خندا شي نه

دغسې ډېرې مرحلې راغلې دي او ولنټيئر يعنې رضاکارانو باچا خان د سرکار د خندا نه بچ کړے ځۀ دے چې سرکار ئې ژړولے دے او نن د باچا خان د فکر او فلسفې ټول بچي په هسکو سترګو او ډېرو وياړ سره وئيلے شي چې مونږ پېرنګے د دې ملک نه په وېستو مجبور کړے ؤ.

لاس کښې کۀ ئې خپل ګرېوان تنې تنې نيولے ؤ
دغسې ګرېوان ئې پېرنګي له هم شلولے ؤ

## يو نظر دې خوا

د باچا خان ټرسټ د څېړنې څانګې ته د لاندينيو خدائي خدمتګارو د ژوند پوره او تفصيلي معلومات پکار دي ځوک چې د باچا خان د څنګ، ننګ او پېرنګي استعمار خلاف د جنګ ملګري پاتې شوي دي او په خدائي خدمتګار تحريک کښې ئې د زړۀ له تله برخه اخستې وه، د ځانونو، مالونو او جائدادونو قربانۍ ئې ورکړې دي، د عدم تشدد په نظريه ټينګ ولاړ پاتې شوي دي، تشدد ئې ګاللے دے، جېلونه ئې تېر کړي دي او خپلې ځوانۍ ئې لَو لور کړې دي، کۀ ځوک څېړنکار په دغه شخصيتونو کوټلي ليکونه کولے شي او مونږ ته ئې راواستوي نو مننه به ئې کوو. مونږ د دغو خدائي خدمتګارو ځنې نامې لاندې درج کوو کۀ له دوي نه علاوه نور ښاغلي مشران د چا په خواوشا کښې داسې تېر شوي وي نو د هغوي په حقله هم خپل معلومات راستولے شئ. کۀ تصويرونه ئې پيدا کېږي نو دا به نوره هم غوره وي.

صاحبزاده خورشيد د ادينه، علي اصغر د مردان، قاضي عطاءالله خان د مردان، سيد فضل لطيف د بدرګې، عبدالخالق خليق د مانکي شريف، شاد محمد خان مېړے د رځړو چارسدې، فضل رحيم ساقي د وردګې چارسدې، عبدالمالک فدا د بابړې چارسدې، ماسټر عبدالکريم د اتمانزو چارسدې، ستي جان د چارسدې، احمد کاکا د بابړې چارسدې، مولوي تاج محمد خان د بغدادې مردان، مولوي عنايت الله د طورو مردان، راحت خان بابا د سخا کوټ ملاکنډ ايجنسۍ، رفيق شالدا د تانې ملاکنډ ايجنسۍ او کانګرسي کاکا، ډاکټر خان صيب، سالار يعقوب خان د بنو، کاکاجي صنوبر حسين مومند د کړې ولې پېښور، اميرنواز خان جليا د اتمانزو، اميرزاده خان د بخشالي ګجرات مردان، عبداللطيف افندي، عاشق شاه باچا د بډه بېرې، حافظ جسيم الدين د مردان، جيلاني کاکا د مردان، حکيم عبدالسلام د هري پور هزارې، ازاد خان کاکا جدون د ايبټ آباد، حاجي فقيرا خان، سالار داؤد خان، ثمين جان خان د محب بانډې پېښور، ميا محمد شاه ستي، ارباب عبدالغفور، سيف الملوک خان خوېشکي، علي ګل خان د پېښور، سيد بلال بادشاه د پېښور، يحيٰي جان خان (د بابا زوم)، غلام محمد ګاما د پېښور، عبدالعزيز خان کاکا د زيدې، حکيم سيدالابرار د محب بانډې مردان، مرزا تاج محمد خاموش، خادم محمد اکبر، سالار ربنواز خان، قاضي حبيب الرحمان د بنو او داسې نور ډېر.

هيله لرو چې زمونږ درانۀ لوستونکي به مونږ سره د قلمي امداد په حيث خپله رابطه وساتي او د باچا خان د ملګرو خدائي خدمتګارو د ژوند حالات او واقعات به په تفصيل سره مونږ ته راواستوي ځکه چې د دې ښاغليو نامې د سرو زرو په اوبو د ليکلو دي او دا ټول مشران د پښتو، پښتون او پښتونخوا فخر دي. په مينه او مننه